# په اسلام کې د حاکمیت مفهوم

## لیکوال

د ازهر د اصول الدین د پوهنځي ریس أ. د. عبد الفتاح
العواري

## وړاندی کونکي

د ازهرشریف د لویوعلماوو د مؤسسي د غړي
او د ازهر د فارغانو نړیوالی مؤسسی د مشر مرستیال
أ .د.محمد عبدالفضیل القوصي

ژباړه :عبدالبصیرمحبی بیا کتنه : قریش الله احمدزی

د ازهر د فارغانو نړیواله مؤسسه

د تندروو مفکورو د باطلولو مرکز د تندرووومفکورو د باطلولو لړۍ (6):

# د ولاء او براء موضوع دهغو معنا او د هغو رامنځ ته کیدل کتاب

عمومي څارونکي لیکوال : ابراهم الهدهد

أ .د.محمدعبدالفضیل القوصي په دغي مؤسسه کې د ثبتولو شمیره :۲۶۶۴۳ /۲۰۱۸

داداري شورا رئیس نړیواله شمیره : ۳ـ ۹ـ ۸۵۴۶۲ ـ ۹۷۷ ـ ۹۷۸

أسامة یاسین

عمومي مدیر

حمدالله الصفتي

خبرداري

د دي کتاب ټول حقوق د ازهرشریف د فارغانو نړیوالي مؤسسي ته ساتلي او خوندي دي، او ددغي مؤسسي له مخکینۍ لیکلي موافقي پرته د دي کتاب د خپرولو، یا بیا خپرولو، یا د کتاب یا د هغه دهري برخي د تولیدولو، یا د راګرځولو یا د بیا ترلاسه کولو په وسائلو باندي د هغه د کوټ کولو یا په هرډول د هغه د ثبتولو اجازه نشته .

د ازهرشریف د فارغانو نړیواله مؤسسه

د تندروو مفکورو د باطلولو مرکز

جامعة الأزهر-الحى السادس- مدینة نصر

تليفون : ۲۳۸۶۸۱۱۴ ۲۰۲+

فاکس :۲۳۸۶۸۱۱۶ ۲۰۲+

بریښنالیک :

بریښنایي سایټ

د تندروومفکورو د باطلولو لړۍ (۶)

د ازهرد فارغانو نړیواله مؤسسه

په اسلام کې د حاکمیت مفهوم

لیکوال : د ازهرشریف له علماوو څخه حمدالله حافظ الصفتي

د کتاب وړاندي کونکی: د لویوعلماوو د هيئت غړی او ددغي مؤسسی د رئيس مرستیال

أ .د.محمد عبدالفضیل القوصي

مفهوم الحاكمية
په اسلام کي د حاکمیت مفهوم

azharcenter4trans@gmail.com
Al-Azhar Conference Center (ACC) Building,
4 Ismail El-Qabbany St., off El-Tayaran St,
Nasr City, Cairo, Arab Republic of Egypt.
http://www.azhar.eg/act

په خارجي پوخ باندي د الازهر شريف د جومات انځور دی چي ختيځ پيژاند
پريس داوين په قلم رسم شوی
(1807-1879) prisse d'Avennes
لومړی چاپ:  1438هـ/ 2017م.
د امانت شمیره: ١٧٨١٦/ 2017

ISIN:

© No parts of this publication may be reproduced, stored in a retrieval system, or transmitted, in any form or by any means, electronic, mechanical, recording or otherwise, without the prior permission of the publishers.

بسم الله الرحمن الرحيم

# وړاندي کول

## د ازهرشريف د لويوعلماوو د مؤسسي د غړي

## أ .د.محمد عبدالفضيل القوصي په قلم

لوى شيخ محيي الدين بن عربي له رمزو او بدايي څخه پخپل ډک کتاب (الفتوحات المكية) کې وايي چې رښتيني مسلمان ذات هغه وخت همداسي نشى کيداى چې د هغه باطني وجداني وده له جګيدو اوپاس ختلو اوهسکيدو څخه ودريږي نو- له جهان او د جهان له خالق او پيداکونکي سره پخپله اړيکه کې – هغه بايد داسي روحاني معراج اوهسکيدل ولري چې په هغه باندي له ټيټ وجداني حال څخه بل داسي ختونکي حال ته وخيځي چې هغه لا لوړاو ښکلي وي، او که داسي نه وي نو په ټپه دريدو او کلکوالي کې به ګرو او ګيرشي، او په خوب کې د ډوبيدو او مړاوي کيدو نښه به وګرځي!

په دغه روحاني معراج او ختلو سره د انساني ذات بي پايه غولي پراخيږي، نو- له دغه ذات سره- ټول موجودات د ژوند په اکسير او دارو باندي خوځيږي او بيله ژبي خپل خالق ته تراني او تسبيح وايي، او بيله موجوديت څخه سجدي کوي، او وجود يا موجودات د ښا يست او ميني، اوروح او ارامي اوسکونت په سترګو ويني، او پدې باندي د ټول جهان مهار او ولکه د هغه له ليدونکو او نه ليدونکو اړخو سره ترلاسه کوي.

که دغه له احساس نه ډک شفاف او صاف نظر او ليد زموږ په اوسنيو زمانو کې – دغو زمانو کې چې د مادي ارزښتو رنګ يې اخيستى – د اسلام له څيري سره له پاسه او د لاندي ګډ شي نو دا به حق ته په تږو او امنيت اوعدالت ته په شوقمنو نفسونو کې دننه د سحر او جادو اغيزه ولري، او د زماني د ډيرو ناروغيو او شکايتو دپاره به بلسم او درمل وي، او زړونو او عقلونو ته به لار ومومي، او د تيارو تور تم اوسخت توروالى به رڼا کړي!!

که دغه له احساس نه ډک شفاف اوصاف نظر او ليد زموږ پدغو زمانو کې د اسلام له څيري سره ګډ شي: نو ته به له مسلمانانو څخه له داسي خلکو پرته نور څوک ونه مومې چې د هغوى سيني او زړونه له رحم او زړه سوى څخه ډک وي، او په ښه ډول سره عفوه اوتيريدنه کوي، او د بورو

ښځو په زګروو او د کمزورو په دردو دردیږي، او له بدبینیو او پوچو خبرو او تورو کینو څخه پورته کیږي، نو په هرځای کې په انسانانو کې له داسي زړونو پرته نور څه نه ویني چې د حق ښایست ته شوق کوي، او د عدالت په ارزښت باندي په راحت کیږي، او لوړو ارزښتو ته هوس کوي دا بیله دي چې له کرغیړن شدت او بد تورواليي څخه کار واخیستل شي، او بیله دي چې ویني تویي شي، یا سرونه پرې شي، یا بدنونه ټوټې ټوټې شي!!

خو له احساس نه ډک دغه شفاف لید او نظر- چې په هغه کې شاعري او حکمت سره ګډیږي- متاسفانه، زموږ په اوسنۍ زمانه کې له ضد څخه د هغه ضد ته بلکه له نقیض څخه د هغه نقیض ته واوښتل ..نو دا لید د هغه بد تصور په برابر کې چیرته دی چې د هغه خاوندانو ته دا خیال پیدا شوی چې اسلام د هغه له عظمت اورحمت او شمول سره دواک د ترلاسه کولو په شهوت کې راغونډ شوی، او د حکومت چوکۍ ته په ټوپ وهلو کې محصورشوي دي، او له دغي ډلي سره اسلام د سیاست په لوبه کې بند شو چې په هغې کې مناوري او لوبې کیږي، او د هغه لوړ افقونه او لوړي موخي باد یوړي!

نو دا له احساس نه ډک شفاف اوصاف لید د هغوی تورو ادبیاتو په برابر کې چیرته دی چې د هغه په اساس نړي په غوڅ ډول سره په دوو کیږدیو وویشل شوه: د ایمان هغه کیږدۍ چې هغې ته له دغي ډلي پرته نور څوک نه ننوزي، او د جاهلي کفرهغه کیږ دۍ ده چې د هغه له لري کولو او له هغه څخه له خلاصون نه پرته بله چاره نشته، بیا د هغو خاوندان- د سیاست د لوبي په اساس – په وطن کې ورانکاري کوي ویني تویوي او بدنونه ټوټه ټوټه کوي، دا وروسته له دي چې د اسلامي امت غولیدلي ځوانان یې د دښمني اور او د بغض او بدبیني دوزخ ته وروستل، بیایي پریښودل د حکومت کولو په شهوت کې درغبت، او دواک چوکیو ته د شوق په اساس، او د سلطنت په چوکیو باندي د کینستلو په موخه د شدت د کارو اور او دورانکاریو د اور لمبې لا پورته کړي، لکه چې له ټول اسلام – روحیي ارزښتو او مبادیو- څخه له داسي واک اوقدرت پرته چې ښکار کیږي او له داسي حکومت پرته چې د هغه ګدۍ ته ورختل کیږي او له داسي سلطنت پرته بل څه شی ندی پاته چې د هغه په لار کې سرونه بې ارزښته کیږي، او ویني ارزانه کیږي!

دغه له احساسه ډک شفاف اوصاف لید او نظر د هغو کسانو په برابر کې چیرته دی چې ځانونه په سلفیانو پوري موښي او ادعاء کوي چې د سلفي توب وارثان دي بیا هغه د هغې سرسختي اوغلظت او یوي رأیي درواغجنه پرده ګرځوي چې د هغوی طبیعت ګرځیدلی دی، تردي چې په هغو وار د شووشکلو، او وچو نښو کې یې د مسلمانانو پاملرنه ورواړوله چې داسي سوری شوی وریي خلاص کړ چې – بیا وروسته - په هغه باندي له هري خوا څخه د ترهګري دعواګانو په هغه باندي اتکاء اوتکیه وکړه، او له هغه څخه زما مقصد هغه څه دی چې د هغوی مروجو ادبیاتو کې (له ممانعت کونکي طائفی سره جنګ کول) ویل کیږي، چې هغه کابو د شر د سپکو الوتونکي سکروټه ده، چې هغه پخوا اوس د شدت د کارونو د ډیرو ډلوعقیدوي اساس ګرځیدلی دی.

دغه له احساسه ډک صاف نظر او لید ددغو ترهګرو مؤسسو په برابر کې چیرته دی چې کرکجن نومونه لري او زموږ پدغي زمانه کې راپورته شوي او د اسلام او داسلام د خلافت په نامه په درواغو او بهتان سره ناري وهي، بیا د هغو داعیان د نړۍ په مخکي په ځمکه کې وژل او دمړو بدرنګه کول او دسرو پرې کول او دغاړو قطع کول بیله دي سرته رسوي چې د هغوی سترګي ورپیږي، او یا یې زړونه ورته ودربیږي، بلکه بیله دي چې د هغوي په سرسختو ځانو باندي د هغه جرم اندازه ښکاره شي چې هغوی د اسلام په حق کې کړي دي دا هغه وخت چې د اسلام څیره دوینو او دمړو د ټوټو، او سرونو اوغاړو له څیرو سره مل شي، بلکه دا هغه وخت چې د هغوی ددغه کار د تاثیر او اغیزي له کبله اسلام د ډیرو په نظر کې- په داسي وباء باندي بدل شوی چې په ټول جهان باندي یې چپاو کړي دي . او هغه ذهني څیره به څنګه وي چې د نړۍ د ماشومانو په حافظه کې له هغه اسلام څخه چاپ شوي چې هغوی د هغه د جنډي د پورته کولو او د هغه د کلمي د اوچتولو ادعاء کوي ؟

بیا دغه او هغه کسان دیته پام نه کوي چې هلته بیل لوري ته یو اسلامي روحاني جهاد شته چې ښایي بشریت یې د روح اوعقل او وجدان له لحاظه لوړو او هسکو افقو ته ورهسک کړي، او انسانیت دیته راوهڅوي چې خپلو وږو او لوڅو او ناروغو زامنو ته ډوډۍ او دواء او هغه څه برابر کړي چې د هغوی ژوند پري ودریږي او په هغه باندي له هغه فردي ورانونکي

انانيت څخه خلاصون ومومي چې له مادي نفعي مدنيت څخه رامنځ ته شوي دي؟

ګوندي موږ به پدغي علمي لړۍ کې هڅه وکړو چې حق خپل ځای ته راوګرځوو او هغه شبهي اوغلطي ګاني لري کړو چې دغي ډلي په اسلام پوري سريښ کړي دي ترڅو نويو ځوانانو ته د اسلام حقيقت او هغه څه وروښيو چې ښايي هغوی د خپل رب د رضايت او د خپل نبي صلی الله عليه وسلم د پيروي په لار کې په هغه باندي پابندوي.

او له الله څخه توفيق او قبليدل غواړو، او هغه داسي ښه اوستر ذات دی چې له هغه څخه غوښتنه اوهيله کيږي.

## حاکمیت

حاکمیت او یا حکومتداري له هغو لازمو مسالو څخه ده چې باید روښانه کړی شي تر څو د ځوانانو لاسونه ونیسو او د جاهلانو له خندق ، د باطلو له فکر او د جاهلانو له تفسیر څخه یې لرې یوسو :

د حکم په اړه د الله جل جلاله له لوري د نازل شویو ایتونو قضیه ، چې د هغه دصحیح مفهوم بیانولو ته اړتیا ده ، په دې بحث کې مې په لاندې ډول څیړلي دي :

**لومړی :** حاکمیت یا حکومتداري په لغت او اصطلاح کې .

**دوهم :** پر الله جل جلاله د حاکمیت لفظ اطلاقول .

**دریم :** ایا جواز لري چې د حاکمیت لفظ د بشر څخه پر چا اطلاق شي ؟

**څلورم :** د حکم په اړه د نازل شویو ایتونو غلط فهم ، او ددې فهم له منځه وړل او ددې فهم د خاوندانو مناقشه کول . والله الموفق والمعین

**لومړی : په لغت او اصطلاح کې د حاکمیت مفهوم**

**حاکمیت په لغت کې :**

صناعي مصدر او لغوي ریښې لري : ( ح . ک . م ) له الحُكْمِ څخه مشتق دی چې اصل یې منع دی ، ابن فارس وایي : الْحَاءُ وَالْكَافُ وَالْمِيمُ اصل یې یو دی ، چې هغه منع دی . اول یې حکم دی ، چې هغه د ظلم څخه منع دی ، او نومول شوی دی ، حَكَمَةُ الدَّابَّةِ ، ځکه چې هغه یې منع کوي.

يُقَالُ: حَكَمْتُ الدَّابَّةَ وَأَحْكَمْتُهَا. وَيُقَالُ: حَكَمْتُ السَّفِيهَ وَأَحْكَمْتُهُ، إِذَا أَخَذْتَ عَلَى يَدَيْه. [1]

**والحُكْمُ :** حکم په معنی د علم او فقه : الله جل جلاله فرمایي : **( و ءاتینه الحکم صبیا ) د مریم سورت ، ۱۲ ایت) : علم او فقهه مو ورکړه .**

---

[1]ــ مقیاس اللغة ۲\۹۱ مادة (حکم)

**حکم :** په معنی د قضا : وايي : حَكَمَ بَيْنَهُمْ يَحْكُمُ ، معنی قضاوت او فيصله يې وکړه . پر هغه يې حکم وکړ ، معنی فيصله يې او قضا يې وشوه .

**د حاکميت ماده :** له الإتقان څخه ده ، وايي أحکمت الشيء، که چيرې يې په مهارت سره زده کړ .[2]

**حاکميت په اصطلاح کې :**

په دې معنی چې د مکلفينو لپاره د اسلامي شريعت احکامو مصدر او سرچينه يوازې الله جل جلاله دی .

قران کريم پر دې باندې په ډيرو ايتونو کې صراحت کړی دی ، الله جل جلاله فرمايي : **(إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ الْحَقَّ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ)[3] د الانعام سورت ، ٥٧ ايت) ژباړه : ( د فېصلې تول واك د الله دی، هماغه حق بيانوي او هماغه ډېر ښه فېصله كوونکی دی. )**

د اصولو علماوو د الحاکم په برخه کې دا بيان کړي دي چې حاکم او قانون جوړونکی يوازې الله جل جلاله دی چې شريک او ساری نه لري .

الآمدي رحمه الله وايي : ( په دې پوی شه چې له الله جل جلاله پرته بل حاکم نشته ، او نه بغير له هغه څه چې الله جل جلاله پرې حکم او فيصله کړې ده ، بله فيصله او حکم نشته )[4]

امام غزالي رحمه الله وايي : ( د حکم استحقاق يوازې هغه چا لپاره دی چې مخلوقات يې پيدا کړي دي او امر يوازې د هغه لپاره دی ، پر مملوک باندې د مالک د حکم نافذونکی يوازې خالق دی او حکم او امر هم يوازې د هغه لپاره دی .) [5]

[2]ـ لسان العرب ١٢\ ١٤٢ مادة (حكم)
[3]ـ سورة الانعام الآية ٥٧.
[4]ـ الإحكام في أصول الأحكام
[5]ـ المستصفى ص: ٦٦

**دوهم : د الله جل جلاله په حق کې د حکم معناوې**

په قرانکریم کې د الحاکم لفظ پر الله جل جلاله اطلاق شوی دی او درې معناوې ترې مراد شوي دي :

## لومړی : تشریعي حکم :

الله تعالی فرمايي : **(مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ ۚ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا إِلَّآ إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ) سُوْرَةُ يُوسُف : ٤٠ )**[٦] **ژباړه : ( له هغه خدای پرته چي تاسي د چا بندګي کوئ، هغوی له دې پرته نور هيڅ نه دي چي يوازي څو نومونه دي چي تاسي او ستاسي پلرونو ايښي دي، الله د هغو لپاره کوم سند نه دی نازل کړی. د فرمانروائی قدرت له الله څخه پرته د بل هيچا لپاره نشته. د هغه حکم دی چي پخپله له هغه څخه پرته تاسي د بل هيچا بندګي مه کوئ. دا د ژوند سمه سيخه لاره ده، خو زياتره خلك نه پوهيږي. )**

په دې مبارک ايت کې حکم تشريعي دی او هغې عقيدې پورې تړاو لري چې پر وحدانيت او توحيد ولاړه وي ، د الله تعالی دغه مبارک قول (إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ) د هغوی د ټولو بلل شويو خدايانو د تصرفاتو باطلول دي .

په دې معنی چې په عقايدو ، عباداتو او معلاملاتو کې حکم او ددوی په صحيح والي او باطليدو کې حکم يوازې د الله تعالی لپاره دی ، ځکه چې هغه د هر څه خالق دی او پر هر څه پوی دی .[٧]

الله جل جلاله فرمايي : **(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا أَوْفُوا بِٱلْعُقُودِ ۚ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّى ٱلصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ) د المايدې سورت ، ١ ايت)**[٨] **ژباړه : (اې مؤمنانو! د بنديزونو پوره مراعات وکړئ. ستاسي لپاره د څارويو ټول ډولونه حلال وګرځول شول، پرته له هغو چي وړاندي به تاسي ته وښودل شي. خو د اِحرام په حال**

---

[٦]ـ سورة يوسف الآية ٤٠

[٧]ـ التفسير الوسيط لشيخ الأزهر أ. د. محمد سيد طنطاوي ١٧ ٣٦٣.

[٨]ـ سورة المائدة الآية ١.

**کښني ښکار کول ځان ته مه روا کوئ. بېشکه الله چي څه غواړي، حکم کوي. )**

په دې مبارک ایت کې د الله حکم د عقودو او تړونونو پوري متعلق قانون په معنی دی او دا ایت ( ان الله یحکم ما یرید ) په دې معنی چې الله تعالی په خپل مخلوقاتو کې چې څه یې خوښه وي روا کوي او چې څه یې خوښه وي حراموي ، د حکم او ګټو مطابق چې الله تعالی پرې پوهیږي او څنګه چې یې خوښه وي ، نو د الله تعالی په عقدونو او وعدو باندې وفا وکړئ و خپلې وعدې او تړونونه مه ماتوئ .[9]

د الله تعالی تشریعي حکم د بشر لپاره تکلیف دی ، که چا یې امر ته غاړه کیښوده او له نواهیو څخه یې ځان وساته نو کامیاب او خوشحاله شو ، او چا چې د هغه د امر مخالفت وکړ او مخ یې ترې وګرزاوه نو دنیا او اخرت یې له لاسه ورکړ .

الله جل جلاله فرمایي : **(فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَاىَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ (١٢٣)وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ طه سورت ، ١۴۵ ایت)**[10] **ژباړه : (اوس که زما له لوري تاسي ته کوم هدایت ورسیږي، نو څوك چې د هغه هدایت پیروي وکړي، هغه به نه ګمراه شي او نه به په بد بختی کښني اخته شي(١٢٣) او څوک چې زما له ذکر (د نصحت له درس) څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو )**

**دوهم : د کایناتو د قدر او تقدیر حکم :**

او ددې معنی داده چې الله تعالی د کایناتو لپاره قانون او لارې برابرې کړې دي چې ټول کاینات یوازې د الله تعالی د ارادې او د هغه تر حکم لاندې دي ، هر کله یې چې وغواړي ، پیښیږي او هیڅ بشر یې بدلولای نشي او نه هم ترې بغاوت کولای شي .

---

[9]ــ تفسیر المراغي ۶\ ۴۴.
[10]ــ سورة طه ١٢٣\ ١٢۴ آیتونه.

الله جل جلاله فرمايي : **(أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِى الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ[١١] ) د الرعد سورت ، ٤١ ايت) ژباړه : (ايا دغه (کافران) نه ګوري چې موږ پر دغې سيمي را روان يوو او د هغې دايره له هري خوا را تنګوو (مسلمانانو ته يې ورکوو)؟ - الله حکومت کوي، هيڅوك د هغه د فېصلو رد کوونکی نه شته؛ او د هغه په حساب اخيستلو کښي څه ځنډ نه راځي.**

بل ځای الله جل جلاله فرمايي : **(قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا ۖ لَهُۥ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهِۦ وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِى حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا ) [١٢]د الکهف سورت ، ٢٦ ايت) ژباړه : (ووايه: الله د هغو د هستوګني په موده ډېر ښه پوهيږي. د اسمانونو او ځمکي ټول پټ حالات همغه ته معلوم دي، هغه څومره ښه ليدونکی او اورېدونکی دی. د ځمکي او اسمان د مخلوقاتو هيڅ خبر اخيستونکی له هغه پرته نشته، او هغه په خپل حکومت کښي څوك نه شريکوي. )**

**دريم : أُخروي حکم :**

ددې معنى داده چې الله تعالى به د قيامت پر ورځ چې ټول خلک به د هغه پر وړاندې ولاړ وي ، پر خپلو اعمالو محاسبه کړي ، ښه او نيکانو ته به ثواب ورکړي او بدکارانو ته به سزا ورکړي . الله تعالی فرمايي : **(ثُمَّ رُدُّوٓا إِلَى اللَّهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ۚ أَلَا لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحٰسِبِينَ )[١٣] د الانعام سورت ، ٦٢ ايت) ژباړه : (بيا ټول د الله، د خپل حقيقي بادار په لوري بېرته راوستل کيږي. خبردار اوسئ! د فېصلې ټولي واکمنۍ د هماغه په لاس کښي دي او هغه په حساب اخيستلو کښي ډېر چټك دی. )**

بل ځای الله جل جلاله فرمايي : **(قُلِ اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهٰدَةِ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِى مَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ)[١٤] د الزمر سورت ، ٤٦ ايت) ژباړه : (ووايه: "خدايه! د اسمانونو او ځمکي پيدا کوونکيه، پر پټ او ښکاره باندي پوهېدونکيه! همدا ته به د خپلو بندګانو په منځ کښي د هغه شي فېصله وکړې چي هغوی په کښي اختلاف کوي." )**

[١١]ـ سورة الرعد الآية ٤١.
[١٢]ـ سورة الكهف الآية ٢٦.
[١٣]ـ سورة الانعام الآية ٦٢
[١٤]سورة زمر الآية ٤٦.

**دريم : په بشر باندې د الحكم لفظ اطلاقول**

له مخكيني بيان څخه پوی شوې چې حاكم الله تعالی دی ، او په قران كريم كې د الله تعالی د حاكميت د معنی او مراد په اړه هم يادونه وشوه ، اوس سوال دادی چې ايا په بشر كې پر چا د حاكميت لفظ اطلاقول جواز لري ؟

ځواب يې : هو دی ، په قران كريم كې ډيرى اياتونه د بشر حاكميت ته راجع او منسوب دي ، الله جل جلاله فرمايي **:( يٰدَاوُ ُدُ إِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيفَةً فِى الْأَرْضِ فَاحْكُم بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌۢ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ)**[١٥] **د ص سورت ، ٢۶ ايت) ژباړه : ((موږ هغه ته وويل) "اې داؤده! موږ ته په ځمكه كښي خليفه ګرځولی يې، له دې كبله ته د خلكو په منځ كي په حقه حكم وكړه او د نفسي غوښتني پيروي مه كوه چي هغه به تا د الله له لاري څخه واړوي. كوم كسان چي د الله د لاري څخه بې لاري كيږي په يقيني ډول د هغو لپاره سخته سزا ده، ځكه چي د حساب ورځ يې هېره كړه ده." )**

الله جل جلاله فرمايي : **(وَدَاوُ ُدَ وَسُلَيْمٰنَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِى الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِينَ) (فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُ ُدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ۚ وَكُنَّا فٰعِلِينَ ) د الانبيا سورت ، ٧٨ ، ٧٩ ايتونه)** [١٦]**ژباړه : (او په همدې نعمت سره موږ داؤد(ع) او سليمان (ع) سر لوړي كړل. كله چي هغو دواړو د يو كښت دعوه فېصله كوله، چي په هغه كي د شپې له مخي د نورو خلكو پسونه څريدلي ول، او موږ د هغو د فېصلې د صادرولو شاهدان وو. )**

---

[١٥]ــ سورة ص الآية ٢۶.
[١٦]ــ سورة الانبياء ٧٨\ ٧٩ آيتونه.

(نو په هغه وخت کښي موږ د فېصلې صحيح صورت سليمان (ع) ته وښودی. پداسي حال کښي چي موږ حکم او علم دواړو ته ورکړی ؤ، د داؤد (ع) سره موږ غرونه او الوتونکي ايل (تابع) کړي ول، چي پاکي يې بيانول. ددغه کار کوونکي همدا موږ وو. )

په بل ځای کې الله جل جلاله خپل نبي صلی الله عليه وسلم ته خطاب کوي **(إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ أَرٰىكَ اللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا) د النسا سورت ، ١٠٥ ايت)** [١٧]**ژباړه : (اې پېغمبره! موږ دا کتاب په حقه ستا لوري ته درلېږلی دی، تر څو هغه سمه لاره چي الله در ښودلې ده، له هغې سره سمه د خلکو په منځ کښي فېصله وکړې، ته د خائنانو له خوا جګړه کوونکی مه کېږه، ) .**

که چيرې ووايې چي دا ټول قراني اياتونه چې تاسو ذکر کړل ، په دې کې حکم د الله تعالی رسولانو او نبيانو ته منسوب او راجع شوی دی ، او د الله تعالی رسولان او نبيان په الهي وحې سره معصوم دي ، ايا داسې نور نصوص ذکر کولای شې چې پکې حکم عام بشر ته چې په الهي وحې سره معصوم نه دي ، منسوب او يا راجع شوی وي ؟

وبه وايم چې هو ، په قران عظيم الشان کې ډيری داسې مبارک اياتونه شته چې پکې حکم له انبياوو غير عامه بشر ته منسوب شوی دی ، که چيرې په دې اړه دليل غواړې نو د احرام په حالت کې د ښکار کولو د سزا په اړه د الله تعالی دغه وينا ولوله ، الله جل جلاله فرمايي **:( فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ) د المايدې سورت ، ٩٥ ايت)** [١٨]**ژباړه : (نو کوم څاروی چي هغه وژلی وي، د هماغه انډول يو څاروی به له هغو**

[١٧]ــ النسا سورت ، ١٠٥ ايت.
[١٨]ــ المايدې سورت ، ٩٥ ايت.

**ځارويو ځخه نذر ورکوي چي د هغه فېصله ستاسي ځخه دوه تنه عادلان وکړي )**

همدارنګه د ښځې او مېړه تر منځ د اختلافاتو پر مهال د تحکيم په اړه فرمايي **:( وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِۦ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصْلَٰحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَآ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ) د النسا سورت ، ۳۵ ايت[۱۹]) ژباړه : (او که تاسي چيرته د مېړه او مېرمني د اړيکو د خرابېدو په باب اندېښمن ياست؛ نو يو منځګړی د مېړه له خپلوانو ځخه او يو د مېرمني له خپلوانو ځخه وټاکئ. که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي؛ نو الله به د هغو دواړو تر منځ د توافق لاره برابره کړي. الله په هر ځه پوه او باخبره دی . )**

قران کريم قاضيان حاکمان بللي دي ، الله جل جلاله فرمايي **: (وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِالْبَٰطِلِ وَتُدْلُوا بِهَآ إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ) د البقرې سورت ، ۱۸۸ ايت[۲۰]) ژباړه : (او تاسي مه په خپلو منځو کښي يو د بل مال په ناروا توګه خورئ او مه هغه مال حاکمانو ته په دې غرض وړاندي کوئ چي تاسي ته په قصدي توګه او ظلم سره د نورو خلکو د يو ځه شتمنۍ د خوړلو فرصت په لاس درشي، په داسي حال کي چي تاسي پوهيږي. )**

الله تعالی له خپل رسول صلی الله عليه وسلم سره په خطاب کې خپل مبارک ذات په دې وينا توصيف کړی دی ، **(وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحَٰكِمِينَ ) د يونس سورت ، ۱۰۹ ايت[۲۱]) ژباړه : (او [اې پېغمبره (ص)!] ته د هغې**

---

[۱۹]ــ النسا سورت ، ۳۵ ايت.
[۲۰]ــ البقرې سورت ، ۱۸۸ ايت.
[۲۱]ــ يونس سورت ، ۱۰۹ ايت.

**لاربنووونۍ پیروي کوه چي تا ته د وحیي په وسیله لیږله کیږي. او صبر وکړه، تر څو الله فېصله وکړي. او همغه ډېر ښه فېصله کوونکی دی. )**

او د نوح علیه السلام په ژبه فرمایي :**( وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحٰكِمِينَ ) د هود سورت ، ۴۵ ایت[۲۲]) ژباړه : (او ستا وعده ربښتیا ده او ته له ټولو حاکمانو څخه لوی او غوره حاکم یې." )**

دا پورته ذکر شوي آیتونه ټول پر دې دلالت کوي چې پر الله تعالی او پر بشر باندې د حاکم لفظ اطلاقول جواز لري مګر پر دوو مختلفو معناوو سره ، او د دواړو تر منځ هیڅ ډول نفی نشته ، لکه د نورو هغه الفاظو په شان چې اشتراک پکې جواز لري .

نو حاکمیت د حاکم لپاره نسبت کول دي ، کله ترې مراد او موخه الله تعالی وي او کله ترې مراد د بشر څخه حاکم وي . له بشر څخه حاکم په دنیا کې د امام ، خلیفه ، امیر ، پادشاه او یا د ریس په نوم یې خلک یادوي ، ټول دغه نومونه د یوه مفهوم زیږنده دي چې هغه د الله تعالی په شریعت سره د خلکو رهبري کول او پر دین باندې د دنیا سیاست کولو څخه عبارت دی .

## څلورم : د حکم په اړه د الله تعالی له لوري د نازل شویو ایاتونو غلط مفهوم

او ددې مفهوم نقدول او د ویونکي شبهه له منځه وړل

په اسلامي تاریخ کې د حاکمیت لفظ په ۱۴مه هجري پیړۍ کې وپیژندل شو ، او د لومړي ځل لپاره ددې لفظ اطلاق ابو الاعلی المودودي وکړ ، له نوموړي وروسته سید قطب تکرار کړ او له

[۲۲]ـ هود سورت ، ۴۵ ایت.

هغه وخت راهيسې د حاکميت لفظ د اسلامي ډلو او ګوندونو تر منځ په پراخه توګه خپور شو ، او دا معنى ترې اخلي : حکم ، قانون او واکداري يوازې د الله تعالى پورې خاص ده ، ټول قوانين او نظامونه له هغه څخه سرچينه اخلي ، د هغوى پر وړاندې حاکميت يوازې د الله تعالى لپاره ده ، او هيڅ بشر ته جايز نه دي ، هر څوک چې وي .

ابو الاعلى المودودي وايي : ( دغه کلمه – حاکميت – د نن ورځې د سياسي علم پر اصطلاح پر مطلقې سلطې او يا پر لوړې سلطې باندې اطلاق کيږي .) [٢٣]

نومورى وايي : ( قانون د حاکميت درلودونکي د ارادې پر اساس جوړيږي او فرد باندې لازمه ده چې اطاعت يې وکړي.

د حاکميت درلودونکي باندې هيڅ داسې قانون نشته چې هغه مقيد کړي او پر هغه د هيچا اطاعت لازم نه دى ، پر خپل ذات کې مطلق قادر او توان لرونکى دى ، او په هغه څه کې چې ترې صادريږي ، پوښتنه کول جايز نه دي . ) [٢٤]

بيا وايي : ( له الله تعالى پرته هيچاته هم دا جايز نه دي چې د الله تعالى پر بنده ګانو خپل حکم وچلوي ، دغه حق يوازې د الله تعالى لپاره دى او له هغه پرته هيچاته حاصل نه دى .) [٢٥]

سيد قطب هم د هغه طرف مايله شو ، او وايي : ( حکم يوازې د الله تعالى لپاره وي ، د هغه د الهيت په حکم سره يوازى په هغه مقصوره دى ، ځکه چې حاکميت د الهيت له خصايصو څخه شميرل کيږي ، هر چا چې ځانته د حکم غوښتنه وکړه نو د الله

---

[٢٣]ــ تدوين الدستور الإسلامي ص ١٨
[٢٤]ــ المرجع السابق ص ١٩
[٢٥]ــ المرجع السابق ص ٢١

تعالی سره یې د هغه په الهي خصایصو کې شخړه وکړه ، یوه خبره ده که دغه دعوه د فرد له لوري وي او یا د یوې طبقې ، ګوند ، ادارې ، امت ، او یا د نړیوال سازمان په شکل کې د ټولو خلکو له لوري وي . او هر څوک چې د الله تعالی سره د هغه په ځانګړو الهي خصایصو کې شخړه وکړي او د ځان لپاره یې دعوه وکړي نو پر الله تعالی یې په صریح ډول کفر وکړ ، کفر یې د دین د ضروریاتو په څیر معلوم ګرزي ، حتې یوازې ددې نص په حکم سره هم .

ددې حق هغه ادعا چې دعوه کوونکی یې د اسلام مبارک دین له دایرې وباسي او د الله تعالی سره یې د هغه په ځانګړو خصایصو کې په شخړه کوي ، یوازې یو شکل نه لري ، ضروري نه ده چې ووایي :

**(مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى)**[26] **د القصص سورت ، ۳۸ ایت ، ژباړه : (زه خو له خپله ځانه پرته ستاسي کوم بل خدای نه پیژنم)**

او یا ووایي : **( فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ)**[27] **د النازعات سورت ، ۲۴ ایت ، ژباړه : (ویې ویل: "زه ستاسي تر ټولو لوی رب یم!" )**

لکه څنګه چې فرعون په جهر سره ویلي وو ، مګر ددې حق دعوه کوي او د الله تعالی سره په شخړه کې واقع کیږي ، فقط ددې لپاره چې د حاکمیت څخه د الله تعالی شریعت لرې شي او پر ځای یې قوانین له بلې سرچینې او مصدر څخه واخلي . له همدې سره چې دا پریکړه وکړي ، د حاکمیت لوری یا جهت چې هغه د ټولو

---

[26] _ القصص سورت ، ۳۸ ایت
[27] _ النازعات سورت ، ۲۴ ایت

واكونو مصدر دی ، له الله تعالی پرته بل جهت دی ، که څه هم ټول امت او یا ټول بشریت پر دې پریکړې راټول شي .) [۲۸]

د پورته ذکر شویو څخه مونږ ته دا روښانه کیږي چې ددوی پر وړاندې حاکمیت د دین او عقیدې له اصولو څخه شمیرل کیږي ، نو د حاکمیت نه تطبیقول او یا ورڅخه انکار کول د ښکاره او صریح کفر په معنی دی ، او پر دې مبارک ایت استدلال کوي : **(وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ )** [۲۹]**د المایدې سورت ، ۴۴ ایت) ژباړه : (کوم خلك چي د الله له نازل کړي قانون سره سمي فېصلې ونه کړي، هماغوی کافران دي. )**

سید قطب په خپل تفسیر کې د پورتني ایت په اړه داسې وایي : ( پر همدې قاطع هوډ او تاکید سره . او پر همدې عمومیت سره چې په شرطیه (من ) او د ځواب په جمله کې راغلې ده . چې د غموض او پټ والي ، ځای او وخت له حدودو یې راباسي ، او پر هغه چا چې د الله په شریعت حکم نه کوي که د هر نسل او هر ځای څخه وي ، حکم عام مینځ ته رازي ... او علت یې هماغه دی چې مونږ ذکر کړ ، هغه څوک چې د الله تعالی پر شریعت حکم نه کوي نو هغه د الله تعالی د اولوهیت څخه انکار کوي .

نو اولوهیت د الله تعالی له خصایصو څخه دی او ددې غوښتنه داده چې د هغه قانون دی حاکم وي ، او هر څوک چې د الله تعالی د قانون پرته پر بل قانون حکم کوي ، له یو اړخه د الله تعالی د اولوهیت او خصایصو څخه انکار کوي او له بل اړخه د ځان لپاره د اولوهیت د حق غوښتنه او د خصایصو دعوه کوي ، که چیرې دا او هغه کفر نه وي نو نور کفر به څنګه وي ؟

---

[۲۸]ـ المرجع السابق ۱۹۹۰|۴

[۲۹]ـ المایدې سورت ، ۴۴ ایت.

په ژبې سره د ایمان او اسلام دعوه او د عمل – چې له کلام څخه هم قوي تعبیر بلل کیږي - په څه ارزښت وي ، چې له ژبې هم فصیح کفر باندې خبرې کوي ؟! ) [۳۰]

له دې ځایه معلومیږي چې ددوی پر وړاندې حاکمیت د بشر حکم نه مني ، بلکې پر ضد یې د انقلاب غوښتنه کوي ، نو د همدې لپاره په اسلام کې سیاسي نظریه پردې تاسیس شوې ده چې باید د امر او نهیه ټول واکونه او قوانین د بشر له لاسونو وویستل شي ، او هیچاته دا اجازه ورنه کول شي چې د هغه په شان بشر کې یو امر نافذ کړي او بیا یې اطاعت وکړي .

## ددې غلط مفهوم مناقشه کول :

**لومړی** : پر الله تعالی او پر بشر باندې د حاکم لفظ اطلاقول یو بل نه نفی کوي ، ځکه چې دا اطلاق د لفظي مشترک له جملې څخه دی ، ددې لفظ اطلاق پر الله تعالی صحیح دی او پر بشر یې هم اطلاق صحیح دی ، لکه څنګه چې ځینې وخت الله تعالی ته او ځینې وخت بشر ته د حاکمیت د اسناد کولو په اړه خبرو کې پوی شوئ .

هغه څه چې غواړو پرې تاکید وکړو ، د بشر څخه حاکم داسې څوک وي چې عصمت نه لري ، او د حل او عقد اهل یې په ازاد اختیار او ټولپوښتنې سره چې بیعه ( او یا په معاصره اصطلاح مستقیمه رایه ورکونه ) بلل کیږي ، ټاکي . د هغه حکم پر داسې ارزښتونو او اساساتو ولاړ وي چې باید تحقق پیدا کړي ، لکه عدل او شوری ، د شرعي کلیاتو په چوکاټ کې چې جزیات یې هم پکې شامل دي ، د امت لپاره د ضروري قوانینو په جوړولو کې اجتهاد

[۳۰]ـ في ظلال القرآن .۸۹۸/ ۲.

کول ، چې د خپل رعیت او ولس په منځ کې د هغه حکم او پریکړې پر عدل او حق ولاړې وي ، او دغه جوړښت له دې سره په ټکر کې نه دی چې حاکمیت په حقیقت کې د الله تعالی لپاره دی.

په همدې بیان سره درته ددې نظریې او دعوې عدم صحت روښانه کیږي .

**دوهم :** ددغه قوم پر وړاندې د حاکمیت په مفهوم کې تر ټولو خطرناکه شی د الله تعالی سره په مقابل کې یې انسان ایښودل او د الهي او بشري منهجونو تر منځ دايمي مقارنه ده ، طبيعي خبره ده که چیرې مو دا مفهوم ومانه نو په علم کې د راسخینو پر وړاندې به په مکمل ډول د اجتهاد دروازه بنده شي .

ولې ، په داسې حال کې چې د شریعت نصوص د فکر په کار اچولو او د نظر د نعمت په اړه هڅونه کوي ، ایا رسول الله تعالی معاذ بن جبل ته چې کله یې یمن ته د قاضي په توګه لیږه ، ونه ویل : که چیرې مساله درته وړاندې شوه نو فیصله به څنګه کوې ؟ ویې ویل : د الله تعالی په کتاب به فیصله کوم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : که چیرې دې د الله تعالی په کتاب کې ونه موندل ؟ ویې ویل : د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو به فیصله کوم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : که چیرې دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې پیدا نه کړل ؟ ویې ویل : بیا به په خپله رایه ، فکر او اجتهاد سره فیصله کوم ، او کوښښ به کوم چې په حقه سره فیصله وکړم ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه سینه وډبوله او ویې فرمایل : الله تعالی لره دې حمد او ثنا وي ، چې د الله تعالی د رسول قاصد ته یې د

داسې تګلارې توان ورکړ چې د الله تعالی رسول پرې خوشحاله کیږي . ؟ [۳۱]

ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم د نص د نه موجودیت پر وخت کې د معاذ بن جبل پر اجتهاد راضي نشو کوم چې هغه یمن ته د قاضي او حاکم په توګه ولیږه ؟ بلکې دعا یې هم ورته وکړه، پر سینه یې ورته لاس کیښود او ویې فرمایل : الله تعالی لره دې حمد او ثنا وي ، چې د الله تعالی د رسول قاصد ته یې د داسې تګلارې توان ورکړ چې د الله تعالی رسول پرې خوشحاله کیږي .

نو ددوی دغه دعوه یوه عارضي دعوه ده چې دلیل ته ضرورت لري ، او ټول دلایل ددوی پر ضد دي ، بلکې که چیرې ددوی دغه دعوه ومنل شي نو دا به د فکري ژوند د بډایه کولو په برخه کې د بشري عقل د فلجیدو سبب شي .

**دریم :** په دې شکل د حاکمیت مفهوم رامخې ته کول د حکم او واک د ترلاسه کولو لپاره د دین استعمالول دي ، او سیاسي شخړې دیني شخړو ته نقلول دي چې د حکم ګدۍ ته د رسیدو په موخه د امت ویښتیا له منځه وړي او بې احساسه کوي یې .

**څلورم :** ددوی دغه خبره چې وایي د بشر په لاس کې واک کفر **دی** ، **د** اسلام په اصولو کې د ټاکل شویو برخو سره په تضاد کې ده ، اصول وایي : ټولنه د مسلمان حاکم څارنه کوي او هغه یې تعینوي او عزل کوي .

پر دې باندې ښه دلیل د حضرت ابوبکر الصدیق رض وینا ده چې د خلافت د ترلاسه کولو وروسته یې په لومړۍ خطبه کې ویلې وه : زه پر تاسو باندې ټاکل شوی یم خو له ستاسو څخه غوره نه یم ،

[۳۱] ـ اخرجه ابو داود فی سننه فی کتاب الاقضیة ـ باب الاجتهاد الرای فی القضاء ۳۰۳\۳ رقم الحدیث ۳۵۹۲.

که چیرې مې ښه کار وکړ نو ملاتړ او مرسته مې وکړئ ، او که چیرې مې اشتبا وکړه نو سمه لاره راوښیئ .[۳۲]

پنځم : په دولت کې ځینې داسې مسالې او ادارې دي چې قوانینو ته ضرورت لري چې په اړه یې قران او نبوي سنتو کې نص نشته ، دلته پوښتنه راپیدا کیږي چې : حاکم به ددې مسالو پر وړاندې څه کوي ؟

نو د همدې لپاره د قران کریم او نبوي سنتو وروسته د شرعي احکامو دلایل له اجماع ، قیاس ، استحسان ، مصالح مرسله ، عرف ، استصحاب او د پخوانیو امتونو له شریعت څخه راخیستل شوي دي .[۳۳]

شپږم : د مایدې سورت پر ایت ددوی استدلال چې وایي چا چې د الله تعالی پر شریعت حکم ونه کړ نو کافر دي ، په ځواب کې یې وایو :

له هر څه مخکې خو په ایمان کې مهمه او ضروري برخه په زړه باور کول دي نه په ژبه باندې اقرار ، او نه هم عمل پکې رکن دی ، پر دې باندې د اهل سنت و الجماعت ( الاشاعره ) مذهب دی ،

او له دې قول څخه پرته چې جمهور امت پر دې باندې دي ، هغه د خوارجو قول دی چې د اسلام له اهل څخه هر څوک چې د الله تعالی په شریعت حکم نه کوي ، کافروي . د امت څیړونکو او محقیقینو د خوارجو ددې قول ځواب ورکړی دی ، او د هغوی ددې قول بطلان یې له څو اړخونو بیان کړی دی چې امام الفخر

[۳۲]ـ البداية والنهاية ۶\ ۱ ۳۰.
[۳۳]ـ راجع معنى هذه المصطلحات في كتب أصول الفقه، منها على سبيل المثال: المستصفى للغزالي ص: ۱۳۷ - ۱۷۳ ، والإحكام في أصول الأحكام ـللامدي ۱۹۵/۱ ، ۱۷۳/۳ ، ۱۳۷/۴ .

الرازي رحمه الله د مايدې سورت د ذکر شوي ايت په تفسير کې ذکر کړی دی :

وايي : ( دوهمه مسأله : خوارج وايي : هر چا چې د الله تعالی نافرماني وکړه نو هغه کافر دی ، جمهور علما بيا وايي چې داسې نه ده ، خوارجو پر دې ايت استدلال کړی دی او وايي چې دا نص دی په دې کې چې هر چا چې بغير د الله تعالی د شريعت څخه حکم وکړ نو هغه کافر دی ، او هر څوک چې نافرماني يا ګناه وکړي هغه د الله د تعالی شريعت خلاف عمل کړی دی نو لازمي ده چې بايد کافر شي .

**متکلمينو او مفسرينو ددې شبهې ځواب داسې ذکر کړی دی :**

**لومړی** : دغه ايت په يهودو کې نازل شوی دی او د هغوی پورې خاص دی ، دا ضعيف دی ، ځکه چې اعتبار د لفظ د عموم لپاره دی نه د سبب خصوصيت لپاره ، له هغوی څخه بيا ځينو ددې سوال ته داسې ځواب ويلی دی ، وايي : له دوی څخه چې مخکې ذکر شول ، هر يو چې د الله تعالی په شريعت حکم ونه کړ نو هغه کافران دي چې دا هم ضعيف قول دی ، ځکه چې د الله تعالی په دغه مبارک قول کې : (وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ ) داسې کلام دی چې د شرط په معرض کې د (من) کلمه داخله شوې ده ، نو بيا د عموم لپاره کيږي ، او د هغوی قول چې وايي : مراد ترې هغه کسان دي چې مخکې ذکر شوي دي ، نو دا هم په نص کې زيادت دی ، چې جايز نه دی .

**دوهم :** عطاء وايي : له کفر پرته کفر دی او طاووس وايي : داسې کفر نه دی چې د اسلام له ملت څخه پرې خارج شي ، لکه څوک چې پر الله تعالی او د اخرت پر ورځې کافر شي ، دوی دغه ايت ددين پر کفر نه بلکې د نعمت پر کفر باندې تاويل کړی دی ، دا

هم ضعيف دی ، ځکه چې د کفر لفظ مطلق شي نو د دين کفر ته يې انصراف کيږي .[٣٤]

**دريم :** ابن الانباري وايي : ( جايزه ده چې دا معنی وي : هر چا چې د الله تعالی پر شريعت حکم ونه کړ ، داسې فعل يې کړی دی چې د کافرانو له افعالو سره پر تله کيږي ، نو ددې لپاره د کافرانو سره مشابه کيږي ، دا هم ضعيف قول دی ځکه چې هغه دښمن او په ظاهر لعنتی دي.

**څلورم :** عبد العزيز بن يحيی الکناني وايي : ( د الله تعالی دغه قول (بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ) عمومي صيغه ده ، او دا مبارک قول (وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ) معنی يې دا ده ، کوم خلك چې د الله له نازل کړي قانون سره سمي فېصلې ونه کړي، څوک چې د الله تعالی د حکم پر ضد فعل وکړي نو همدوی کافران دي . او دا حقه خبره ده ځکه چې کافر هغه څوک دی چې په هر هغه څه کې د الله تعالی د حکم پر ضد فعل ترسره کړي چې هغه نازل کړي دي ، او فاسق بيا د الله تعالی د حکم مخالفت بيا په ډير کمه برخه کې کړی دی چې هغه عمل دی ، مګر په باور او اقرار کې هغه موافق دی ، دا هم ضعيف دی ، ځکه : که چيرې دغه ايت په مخصوص ډول د هغه چا لپاره خبرداری وای چې د الله تعالی له لوري په نازل شويو کې يې د هغه د حکم مخالفت کړی نو دغه خبرداري يهود په خپل بر کې نه دي نيولي چې په رجم کې يې د الله تعالی د حکم مخالفت کړی وو . او ټولو مفسرينو پر دې اجماع کړې ده چې په دې خبرداري او وعيد کې يهود هم رازي ځکه چې د رجم په پيښه کې يې د الله تعالی د حکم مخالفت کړی دی نو دا ددې ځواب پر سقوط دلالت کوي .

[٣٤]ـ کفر پر ډوه ډوله دی ، د باور او اعتقاد کفر ، او د نعمت کفر . د نعمت کفر د اعتقاد له کفر څخه توپير لري ، چې د اسلام له ملت څخه پرې نه خارج کيږي . امام بخاري په خپل صحيح کتاب بخاري شريف کې د ايمان برخه کې د .« باب کفران العشير، و کفر دون کفر » باب کې ذکر کړي دي .

**پنځم :** عکرمة وايي: ( د الله تعالی په دې مبارک قول کې (وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ) هغه کسان رازي چې په زړه سره يې انکار کړی وي او خپل دغه انکار او مخالفت يې په ژبې سره بيان کړی وي ،او چا چې په زړه سره ومنله چې دا د الله تعالی حکم دی ، او پر ژبې يې اقرار وکړ چې دا د الله تعالی حکم دی او له هغه وروسته ترې داسې فعل څرګند شو چې د حکم مخالف وي نو هغه د الله تعالی له لوري په نازل شويو باندې حکم کړی دی مګر پريښي يې دي . نو ددې ايت لاندې داخليدل يې نه لازميږي ، او دا صحيح ځواب دی ، والله اعلم . [٣٥]

نو پر دې اساس هر څوک چې د الله تعالی پر شريعت د حکم کولو څخه انکاري وي ، د الله تعالی له طرفه يې نه ګڼي او يا په دې باور لري چې دا حکم صحيح نه دی ، او يا پرې تمسخر وکړي ، او يا يې رد کړي نو په دې کې هيڅ شک نشته چې هغه کافر دی .

تر څو پورې چې يو مسلمان پر دې ريښتينی باور او ايمان لري چې د الله تعالی شريعت په حقه دی او په زړه کې له دې شرعي څخه انکار ونه کړي او نه هم په ژبه باندې د خپل انکار اقرار وکړي نو هيڅوک نشي کولی چې نوموړی د اسلام مبارک دين له ملت څخه خارج کړي او يا يې له دين څخه وباسي . نو د الله تعالی په حکم کې ددې تقصير په سبب يو مسلمان عاصي او ګناهګار ګڼل کيږي او د اهل سنت و الجماعت پر وړاندې که چيرې مسلمان ګناهګار توبه وباسي نو توبه يې قبليږي ، او که چيرې پر خپلې ګناه بندې مړ شو نو امر يې الله تعالی لره دی .

---

[٣٥]ـ التفسير الكبير ٦/١٢

صاحب الجوهرة رحمه الله وايي :

كه څوک مړ شي او له خپلې ګناه يې توبه نه وي ويستې ، د ددې کس حکم الله تعالى لره دی ! چې د هغه څنګه خوښه وي هماغسی چلند به ورسره کوي .[٣٦]

**اووم :** همدارنګه د هغه چا په تکفيرولو کې چې د الله تعالى په شريعت يې حکم نه وي کړی ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لارښووني سره ښکاره مخالفت دی ، له حذيفه بن اليمان رض څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: له ما وروسته به داسې امامان او حاکمان رازي چې زما په هدايت به روان نه وي ، او نه به زما په سنتو عمل کوي ، په دوی کې به داسې کسان وي چې زړونه به يې د شيطانانو او جسدونه به يې د انسانانو وي ، وايي : ما وويل : يا رسول الله ! که چيرې مې دا وموندل نو زه به څه کوم ؟ ويې فرمايل : اورې به او د امير اطاعت به کوې ، که چيرې درباندې ظلم وشو او مال درڅخه واخيستل شو نو اورې به او اطاعت به يې کوې ![٣٧]

دا حديث پر دې دلالت کوي چې له قران او سنتو څخه د حاکم مخ اړول د هغه کفر نه شميرل کيږي .

له دې وروسته دا سوال راپيدا کيږي چې له دې ايت څخه مراد څوک دي ؟ ايا کوم خاص قوم او خلک دي چې دا ايت پکې نازل شوی دی او که له دې ايت څخه مراد عموم دي ؟

ځواب : د (وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ) څخه مراد په خاص ډول يهود دي چې دوه مسالې پردې دلالت کوي :

[٣٦]ـ جوهرة التوحيد ص: ١٩.
[٣٧]ـ أخرجه مسلم في كتاب الإمارة – باب الأمر بلزوم الجماعة عند ظهور ) . ١٤٧٦ رقم الحديث ١٨٤٧ / الفتن وتحذير الدعاة إلى الكفر ٣

**لومړی :** د نزول سبب

**دوهم :** د ایت سیاق

**د نزول سبب :** صحیح احادیث وایي چې دغه ایت په یهودو کې د زنا د پیښې په سبب نازل شوی دی ، نو د الله تعالی هغه حکم یې چې په تورات کې ورباندې نازل شوی وو ، تغیر کړ چې هغه رجم دی ، نو دوی غوښتل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په بل څه باندې حکم وکړي .

امام مسلم په خپل صحیح کتاب مسلم شریف کې د البرا بن عازب څخه روایت کړی دی چې وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه یهودي باندې تیر شو چې هغه په درو وهل شوی و ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی راوغوښتل او ورته یې وفرمایل : ایا ستاسو په کتاب کې د زاني لپاره حد همداسې دی ؟ ویې ویل : هو ، نو د هغوی له علماوو څخه یې یو تن راوغوښت ، ورته یې وفرمایل : د هغه الله تعالی پر نوم درته وایم چې تورات یې پر موسی علیه السلام باندې نازل کړی دی ، ایا ستاسو په کتاب کې د زاني لپاره حد همداسې دی ؟ ویې ویل : نه ، که چیرې دې د الله تعالی په نوم قسم نه وی راکړی نو نه مې درته ویل ، هو ، زمونږ په کتاب کې رجم دی خو زمونږ په اشرافو کې زنا ډیره شوې ده ، که شریف پکې ونیول شي نو خوشې کوو یې او که ضعیف پکې ونیول شو نو حد پرې جاري کوو . نو ومو ویل چې راځئ پر یوه داسې حد یا سزا موافقه وکړو چې پر شریف او ضعیف دواړو باندې یې عملي او یا جاري کړو ، نو التحمیم مو وټاکله ! او د رجم پر ځای مو درې وټاکلې ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : یا الله ! (« اللهُمَّ إِنِّي أَوَّلُ مَنْ أَحْيَا أَمْرَكَ إِذْا أَمَاتُوهُ » ) امر یې وکړ او هغه باندې د رجم حد جاري شو ، نو الله تعالی دغه مبارک ایت نازل کړ **(أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ**

**الَّذِينَ يُسٰرِعُونَ فِى الْكُفْرِ)**[38] **المايده سورت ، ۴۱ ايت) ، ژباړه : (اې پېغمبره (ص)!] هغه خلك دي ستا د خوربدو باعث نه وي چي د كفر په لاره كښي چټك ګامونه اوچتوي. )** تر دې ايت پورې ... **(إِنْ أُوتِيتُمْ هٰذَا فَخُذُوهُ)**[39] **ژباړه : (كه تاسي ته دا حُكم دركړ شي نو ويې منئ، )**[1] **المايده سورت ، ۴۱ ايت**

وايي : محمد صلى الله عليه وسلم ته ورشئ ، كه چيرې په تحميم او درو سره يې درته امر وكړ نو ترې وا يې خلئ ، او كه چيرې يې د رجم فتوى دركړه نو ترې لرې اوسئ ، نو په تولو كفارو كې الله تعالى دغه ايت نازل كړ (وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ ) .[40]

**اتم :** ددې ايت د سياق په اړه ، دغه ايت د مايدې مبارک سورت څخه دی چې ددې سورت ټولې خبرې د اهل كتابو او په خاص ډول د يهودو په اړه دي ، همدارنګه ددې ايت مخكينۍ او وروستنۍ برخه د يهودو په اړه ده ، الله جل جلاله فرمايي : **(يَٰأَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ الَّذِينَ يُسٰرِعُونَ فِى الْكُفْرِ مِنَ الَّذِينَ قَالُوٓا ءَامَنَّا بِأَفْوٰهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ ۛ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا ۛ سَمّٰعُونَ لِلْكَذِبِ سَمّٰعُونَ لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ ۖ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِنۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ ۖ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا ۚ وَمَن يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُۥ فَلَن تَمْلِكَ لَهُۥ مِنَ اللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ۚ لَهُمْ فِى الدُّنْيَا خِزْىٌ ۖ وَلَهُمْ فِى الْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ) (سَمّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكّٰلُونَ لِلسُّحْتِ ۚ فَإِن جَآءُوكَ فَاحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۖ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا ۖ وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ) (وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ وَمَآ أُولٰٓئِكَ**

[38]ـ المايده سورت ، ۴۱ ايت.
[39]ـ المايده سورت ، ۴۱ ايت.
[40]ـ ) أخرجه مسلم في كتاب الحدود - بَابُ رَجْمِ الْيَهُودِ أَهْلِ الذِّمَّةِ فِي الزِّنَى ۱۳۲۷/۳ رقم الحديث ۱۷۰۰

بِالْمُؤْمِنِينَ[41] ) د المايدې سورت ، ۴۱ ، ۴۲، ۴۳ ایتونه) ژباړه :
([اې پېغمبره (ص)!] هغه خلك دې ستا د خورېدو باعث نه وي چي د كفر په لاره كښې چټك ګامونه اوچتوي. كه هغوی له هغو كسانو څخه وي چي په خوله وايي موږ ایمان راوړی دی، خو د زړه له كومي يې ايمان نه وي راوړی يا له هغو كسانو څخه وي چي يهوديان شويدئ؛ د هغو حال دا دی چي د درواغو لپاره غوږ ږدي، او د نورو خلكو لپاره چي تا ته هيڅكله نه دي راغلي، غوږ باسي، ګرځي راګرځي. (سره له دې چي الله د كتاب (تورات) د الفاظو صحيح ځایونه ټاكلي دي)، د هغو معناوي (حُكمونه) له يو ځای څخه بل ځای ته اړوي را اړوي او خلكو ته وايي چي كه تاسي ته دا حُكم دركړ شي نو ويې منئ، كه نه نو مه يې منئ. الله چي په فتنه كښې د چا د غورځولو اراده كړې وي، د الله له مواخذې څخه د هغه د ژغورلو لپاره ته هيڅ نه شې كولای. دا هغه كسان دي چي الله يې د زړونو پاكول نه دي غوښتي. د دوی لپاره په دُنيا كښې رسوايي او په اخرت كښې سخت عذاب دی. )

(دوی د دروغو اورېدونكي او د حرام مال خوړونكي دي. كه دوی تا ته (د خپلو دعوو په وړاندي كولو) راشي، نو تا ته واك دركول كيږي، كه دې خوښه وي د هغو فېصله وكړه او كه نه نو انكار وكړه. كه انكار وكړې، نو دوی تا ته هيڅ زيان نه شي رسولای، او كه فېصله كوې نو د عدالت په اساس يې وكړه، چي الله عدالت كوونكي خوښوي )

(او دوی تا څنګه فېصله كوونكی ټاكي؟ - حال دا چي له دوی سره تورات موجود دی، په هغه كښې د الله حكم ليكل شويدی او سره له دې هم دوی ورڅخه مخ اړوي. اصلي خبره دا ده چي دا خلك له سره ايمان نه لري. )

[41] ـ المايدې سورت ، ۴۱ ، ۴۲، ۴۳ ايتونه

وریسې د الله تعالی دغه مبارک قول : **(وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنفَ بِالْأَنفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُۥ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّٰلِمُونَ ) (وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ الْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ )[٤٢] د المایدې سورت ، ۴۵ ، ۴۶ ایتونه) ژباړه : (په تورات کښې موږ پر یهودیانو دا حکم لیکلی ؤ چې د نفس په بدل کښې نفس، د سترګي په بدل کښې سترګه، د پوزې په بدل کښې پوزه، د غوږ په بدل کښې غوږ، د غاښ په بدل کښې غاښ، او د ټولو زخمونو لپاره برابره بدله ده. نو که څوک قصاص صدقه کړي، هغه د هغه لپاره کفاره ده. او کوم خلك چې د الله د نازل کړي قانون سره سمه فیصله ونه کړي، هماغوی ظالمان دي. )**

**(بیا موږ له هغو پیغمبرانو وروسته د مریم(ع) زوی عیسی (ع) ولیږه. له تورات نه چې کوم شی د هغه په وړاندي موجود ؤ، د هغه رښتینی کوونکی ؤ. او موږ هغه ته انجیل ورکړ، چې په هغه کښې لارښوونه او روښنایي وه. او هغه هم د تورات د هغه څه چې په هغه وخت کښې موجود ؤ، رښتینی کوونکی ؤ. او له خدای څخه د ویریدونکیو خلکو لپاره له سره تر پایه هدایت او نصیحت ؤ. )**

له دې ځایه پوهیږو چې دغه ایت په یهودو کې نازل شوی دی ، او الله تعالی پر دوی د کفر حکم کړی دی ، ځکه چې هغوی د زانیانو لپاره د الله تعالی حکم چې هغه سنګسار دی، رد کړ او پر خپلو خواهشاتو یې حکم وکړ.

---

[٤٢]ـ المایدې سورت ، ۴۵ ، ۴۶ ایتونه. يراجع :انوار التنزيل ١٨٢٨\٢ ، والتفسير الكبير ١٢\٦، وروح المعانی ٣١٥\٣.

که وویل شي: که چیرې دغه ایت په یهودو کې نازل شوی وي نو ایا د نورو شرایعو پر پیروانو باندې تطبیقیږي او که نه ؟ که هغوی هم ددوی په څیر فعل ترسره کړي او د الله تعالی له شریعت پرته په بل څه حکم وکړي ؟

ځواب : یوې ډلې علماوو ویلي دي چې په غیر یهودو کې حکم هم د یهودو د حکم په شان دی ، ځکه چې عبرت د لفظ په عموم سره وي نه د سبب خصوصیت سره .

همدارنګه زمونږ څخه د مخکینیو شریعت زمونږ لپاره هم شریعت دی ، په دې شرط چې زمونږ په شریعت کې داسې څه نه وي راغلي چې د هغه مخالف وي ، یا په دې شرط چې زمونږ د شریعت سره په ټکر کې نه وي .

بلې ډلې علماوو ویلي دي چې دا حکم د یهودو پورې خاص دی ، او د نورو لپاره د بل نص څخه حکم ته ضرورت دی ، او یا پر هغوی باندی د قیاس له لارې .که هر څه وي خو دغه ایت د مسلمانانو په تکفیر کې نص نه دی په هغه مهال کې چې د الله تعالی له شریعت پرته په بل څه حکم وکړي ، نو په دې اساس دلیل نشي ګرزیدای ، ځکه چې دلیل ته که د احتمال کومه لاره پیدا شي نو استدلال پرې ساقط کیږي، په دې معنی چې پر مدعي د دلیل لپاره نه جوړیږي ، او هغه دلته :

پر مسلمان د کفر حکم کول په دې دلیل چې د الله تعالی له لوري په نازل شوي شریعت حکم نه کوي ، ظني دلیل په عقایدو کې د اثبات او نفي لپاره نه منل کیږي .

## د ازهر د ژباړې مرکز

ازهرشریف هغه لوی اسلامي علمي اداره ده چې د اسلامي تراثو ساتنه، څیړنه او خپروني، او ټولو ملتونو ته د اسلام پیغام په امانت سره رسوی، د تمدن په جوړولو کښې مرسته کوي د امن او آرامۍ لپاره کار کوي ترڅو په دنیا او آخرت کښې نفسونو ته راحت ور په برخه کړي، همدا ډول د عربي تمدن بیا راژوندی کولو او د عربی ملت علمي او فکري میراث ساتلو لپاره کار کوي، او په انسانی پرمختګ کښې د عربو اغیزه څرګندوي، د علم او ادب د پرمختګ او ودی لپاره کار کوي همدا رنګه د ټولنې لپاره خدمت ملي او انساني موخو او د روحي ارزښتونو لپاره کار کوي، او د اسلامی او عربي نړۍ لپاره د اسلامی شریعت متخصصین او د فکر خاوندان وړندی کوي، همدا ډول د دینې کلتور او د عربي ژبی چې د قرآن ژبه ده کدرونه روزي.

### د ازهر د ژباړی مرکز جوړول:

د ازهر شریف د پرمختګ په چوکاټ کښې د ازهر شریف شیخ لوی امام استاذ او دکتور احمد محمد الطیب د ژباړی مرکز جوړولو امر وکړ چې د بهرنیو ژبو ګنې څانګې ولري، او د دی مرکز جوړول د ازهر شریف شیخ د ۲۰۱٦ م کال (٤٩) پریکړې مطابق **" د ازهر د ژباړی مرکز"** د نوم لاندی جوړ شو، چې د ازهر شریف ټولو څانګو او ادارو: د ازهر مشیخه، رواق، د ازهر پوهنتون، د اسلامي څیړنو مرکز او د ازهر مکتبونو لپاره په ټولو برخو کښې ګڼو ژبو ته، سمه او پیاوړی ترجمه وړاندی کړي، ترڅو لاندی موخی ترلاسه کړو:

١. د غوره کتابونو، څیړنو او لیکنو بهرنیو ژبو ته ژباړل، چې عامه ګټې لري، او دا کتابونه او لیکنې د علماء کرامو د کمیټې له خوا په ګوته کیږي.
٢. د هغه مهمو کتابونو او لیکنو عربی ته ژباړل چې په بهر کښې په بهرنیو ژبو لیکل کیږي.
٣. د کنفرانسونو او سیمینارونو فوری ژباړه چې د ازهرشریف له خوا جوړیږي.

٤. ګڼو ژبو ته د قرآن کریم د معناګانو نوي او معصرى ترجمى او څیړنې او د هغوى څخه د غوره معناګانو انتخابول، ترڅو د مسلمانانو پام ورته راوګرځي، او خپرى شي.
٥. ګڼو ژبو ته د نبوي آحادیثو ترجمه او د هغوى معناګانې، او د هغه ژباړو څیړنه چې پدى برخه کښې ترسره شوى او د هغي تصحیح یا سمول، او په همغه ژبه یې خپرول ترڅو د مسلمانانو مخ ورواوړي او ګټه تري پورته شي.
٦. د مونوګرافونو او علمي څیړنو ژباړه، چې د غیر عربي مسلمانانو د ټولنو مشکلاتو ته حل لاره لټوي او مهم موضوعات یې څیړي.
٧. د هغه خطبو او ویناوو ژباړل، چې د غیر عربي ټولنو د ستونځو حل لاره وړاندي کوى، چې د ازهرشیف لخوا د همدى مقصد لپاره وړاندى شوي وي.
٨. د هغه فیلمی توکو ژباړه چې اسلام په زړه راښکونکې ډول معرفى کوي چې د ازهرشیف لخوا د همدى مقصد لپاره جوړ شوي وي.
٩. د تحریرى ژباړى لپاره د با صلاحیته ادارى سره په همکارى د کورسونو جوړول.
١٠. د فورى ژباړى لپاره د با صلاحیته ادارى سره په همکارى د کورسونو جوړول.
د ازهر شریف د ټولو ادارو لخوا د ژباړل شوي کتابونو او څیړنو یو لیست چمتو کول او د هغي طبقه بندى کول، چې د نړیولو او انساني مهمو موضوعاتو په هکله ورڅخه ګټه واخیستل شي، او دا کتابونه او لیکنې د سره ترتیب، بیاکتنه یې وشي ترڅو دروانو ستونځو حل لاره په ګوته کړي او خپاره شي.
١١. د علمي ژورنال خپرول چې په دقیق ډول د ژباړي د مرکز د وظایفو لایحې په ګوته کړي.
١٢. د دى مرکز د کارکوونکو د مهارتونو لوړولو لپاره د مسلکي کلتوري او علمي کورسونو جوړول، ترو څود دوي مهارتونه لوړ کړي.

ژبي: انګریزي، فرانسوي، جرمني، اسپانوي، اندونیسي، اردو فارسى، ترکي یوناني، پښتو او عبراني. همدا ډول اوس د (چینایي، ایټالیایی، سواحیلي او جاپاني ژبو کاري ګروپونه جوړیږي.)

د ازهر د ژباړې مرکز د "ريښتيني اسلام " د لړۍ لومړنۍ ژباړه وړاندي کوي چې پدی ژباړل شوي کتابونو کښې د اسلامي اساساتو پيژندنه، په اسلام کښې د انسان ارزښت، د ارزښتونو په ساتنه باندی ټينګار، چې د انسان، حيوان، نباتاتو او جماداتو ارزښت لوړوي. همدا ډول هغه اصولو باندی رڼا اچوي که چيرته مسلمان د خطر، يا حملي او تيري سره مخامخ کيږي څنګه د خپل ځان څخه دفاع وکړي، چې بايد انسانې اصولو ته ژمن ووسي، او د کايناتو ودانولو ته ژمن ووسي نه ورانولوته.

د دی لړۍ مهم کتابونه: "مقومات الإسلام" يا "د اسلام بنسټيز عناصر" چې د ازهر شريف شيخ لوی امام استاذ او دکتور احمد الطيب ليکلی، "الإنسان والقيم في التصور الإسلامي" يا "په اسلامي فکر کي دانسان ارزښت" چې د مصر د اوقافو پخواني وزير ښاغلي اوستاذ او دکتور محمود حمدی زقزوق ليکلی، او "نظرية الحرب في الإسلام" يا " په اسلام کښې د جنګ نظريه" چې شيخ ابو زهرة ليکلی او "نبي الإسلام في مرآة الفكر الغربي" يا "د اسلام پيغمبر د غربي فکر په آينه ښې" کتاب چې استاذ او دکتور عزالدين فراج ليکلی.

د ازهر د ژباړې مرکز د ټولو لوستونکو تبصرو او اندونو ته چې د لغوي او يا هم چاپي او دی ته ورته تيروتنو په هکله وی مرکز سره د خپلو معلوماتو شريکولوته ښه راغلاست وايي. او دا دعا کوو چې الله تعالی دی د ژباړې دا لړۍ د انسان د ژوند او د ټول بشريت د مثبت بدلون لپاره يو نيک پيل وګرځوي، چې په هر ځای او هر وخت کښې په سم ډول د بشريت لپاره د ځمکې آبادولو سبب وګرځي.

د مرکز رئيس

يوسف عامر

# فهرس

**موضوع** **صفحة**


١ــ وړاندي كول. د ازهرشريف د لويوعلماوو د مؤسسي د غړي

أ .د.محمد عبدالفضيل القوصي په قلم.......................................................................

٢ــ حاكميت.....................................................................................................

٣ــ لومړى : په لغت او اصطلاح كې د حاكميت مفهوم.............................................

حاكميت په لغت كي..........................................................................................

حاكميت په اصطلاح كې......................................................................................

٤ــ دوهم : د الله جل جلاله په حق كي معناوې...........................................................

٥ــ لومړى : تشريعي حكم

٦ــ دوهم : د كايناتو د قدر او تقدير حكم.........................................................م

٧ــ دريم : أُخروي حكم ..........................................................................

٨ــ دريم : په بشر باندي د الحكم لفظ اطلاقول......................................................

٩ــ څلورم : د حكم په اړه د الله تعالى له لوري د نازل شويو اياتونو غلط مفهوم.............

١٠ــ ددې غلط مفهوم مناقشه كول.......................................................................

١١ــ متكلمينو او مفسرينو ددې شبهې ځواب داسې ذكر كړى دى..............................

١٢ــ د ازهر د ژباړى مركز.................................................................................

١٣ــ فهرس.....................................................................................................